A GLOBAL NGO NETWORK
FOR PRINCIPLED AND EFFECTIVE
HUMANITARIAN ACTION

د رضاکاره بنسټونو نړیواله شورا (ICVA)

# د غیردولتی موسسساتو څو اړخیزه ستونځی چی دوی د افغانستان د اوسنی ناورین په وړاندی د ځواب ورکولو په لاره کی ورسره مخ دی - د ملی غیردولتی موسساتو له لیدلوری

## د مقاله خلاصه او وړاندیزونه


**لیکوالان**

**فیونا ګال و داود خرم**


یادونه:

په دي تحلیلی مقاله کي څرګند شوی نظرونه د دی مقاله د لیکوالانو دی او د رضاکاره بنسټونو د نړیوالي شورا (ICVA) د نظرونو استازیتوب نه کوی.

**مقدمه**

افغانستان په اوسنی حالت کی په چټکی سره د یو بشری ناورین په لور روان دی. د غیردولتی موس‌س‌ات چه ددی ناورین په وړاندی په لومړی لیکه کی خلکو ته خدمتونه وړاندی کوی، ورته اړینه ده چې یو ښه او مساعد کاری چاپیریال ولری. په اوسنی حالت کی غیردولتی موس‌س‌ات (ملی او نړیوالي) د بهرنی ملکونو د سیاست د بدلون او د افغانستان په دننه کې د نویو پالیسیو د منځ ته راتلو له امله له بیلابیلو خنډونو سره مخ دی.

بنآ دا تحلیلی مقاله د غیردولتی موس‌س‌اتو او د طالبانو اړیکو ته یوه تاریخی کتنه کوی او هغه ننګونې چې اوس مهال په افغانستان کې غیردولتی موس‌س‌ات ورسره مخ دی په ګوته کوی، په ځانګړی ډول هغه ننګونې چې ملی او سیمه ییز غیردولتی موس‌س‌ات ورسره مخ دی. دا تحلیلی مقاله د ۴۱ مرکو د موندنو په اساس او هم د شته تحریری موادو د کره کتنې پر بنسټ لیکل شوی ده. دا مقاله د اوسنی ناورین په وړاندی د بشردوستانه مرستو د لا ښه والی د پاره د یوشمیرمشخصو سپارښتنو په وړاندی کولو سره پای ته رسیږي.

**د طالبانو د نوی حکومت سره د غیردولتی موسساتو اړیکی**

د غیردولتی موسساتو په وړاندې د طالبانو د نوی حکومت رویه د یو ولایت څخه بل ولایت ته او یا هم په عین ولایت کی د یوه ولسوالی نه بله ته توپیر لری. دا امر تر ډیره حده د هغه طالب چارواکو په انفرادی لیدلوری پورې اړه لری چې د ولسوالی او یا ولایت په سطح مسؤل دی او غیردولتی موسسات ورسره په تماس کی دی. هغه غیردولتی موسسات چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې څخه مخکې د طالبانو سره د اړیکو د درلودلو او خبرو اترو تجربه لری په اوس وخت کی د طالبانو سره ښه کاری تعامل لری. د طالبانو د حکومت یو زیات شمیر لوړپوړی چارواکو یوازې دینی زده کړې چې د پرمختیایی پروګرامونو او بشری مرستو د تطبیق کاری تجربه او پوهه نه لری. دی ته په پام کی نیولو سره اړتیا لیدل کیږی چې د طالبانو د حکومت چارواکو ته د ځینی مهمو موضوعاتو په اړه، لکه د بشری مرستو اصول او هم دا ډول د ګډ عملیاتی اصولو په اړه، پوهاوی وکړل شی.

**پرغیردولتی موسساتو باندی د بندیزونو او بانکی بحران اغیزی**

نغدو پیسو ته نه لاسرسی د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې له ۱۵مې راهیسې د غیر دولتی موس‌س‌اتو او د ملګرو ملتونو د ادارو لپاره یو له لویو مشکلاتو څخه دی، کوم چې د طالبانو پر وړاندې د نړیوالو بندیزونو له امله رامنځ شوی. دا امر ددی سبب شو چې د طالبانود راتګ څخه وروسته د افغانستان بانکونه د یوه مودی د پاره خپل فعالیتونه بند کړی او وروسته د خلاسیدو څخه بانکونه نوی مقررات او د پیسو د ویستلو محدودیتونه اجرایی کړی. په داسې حال کې چې نړیوال غیر دولتی موسسات او د ملګرو ملتونو اداری چې د افغانستان څخه بهر بانکی حسابونه لری د مالی خدمتونو د وړاندې کوونکو ( د هوالی د سیستم ) څخه استفاده کوی، مګر ملی غیر دولتی موس‌س‌ات له دې حل لارې څخه ګټه نه شی اخیستی دا ځکه چې د دوی بانکی حسابونه په افغانستان کې دی.

**د ښځو او نجونو د اړتیاوو پوره کول**

په داسې حال کې چې تر اوسه پوری په غیر دولتی موس‌س‌اتو او مرستندویه ادارو کې د کار کونکو ښځو لپاره هیڅ ډول معیاری لارښوونه نه ده وړاندی شوې، د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر په میاشت کې د کډوالو او راس‌ت‌ن‌یدونکو وزارت له خپلو ولایتی ریاستونو نه د یو لیک له مخې غوښتلی چه د غیر دولتی موسساتو اړینه ښځینه کارکوونکو ته د بشری مرستو د ښه ویش په موخه د کار اجازه ورکړل شی. په دی ډول، دا اندیښنه شتون لری چې ښایی ملی غیر دولتی موس‌س‌ات اړین مالی او بشری منابع و نه لری تر څو هغه شرایط چې د غیر دولتی موس‌س‌اتو د ښځینه کارکوونکو د کار په اړه په دی لیک کی ذکر شوی پوره کړی.

**د بشـری مرسـتو په رسـولو کی گـواښـونه او لاسـوهـنـی**
ګن شمیرغیردولتی موسـسـاتو د هغوی په کار کې د طالبانو د حکومت د چارواکو له خوا د مداخـلو او لاس وهنو اندیښـنـی څرګندی کړی. د چارواکو دا مداخلی او لاس وهنی په عمده توګه د کارکوونکو د استخدام (ګمارنی)، د بشری مرستو د ګټه اخستونکو په انتخابولو، او د بشری مرستو د پوښښ د پراختیا په برخو کې څرګندی شوی دی. د دی مداخلو او لاس وهنو ډول او تکرار د ولسوالی، ولایت او مرکز په سطح توپیر لری چی غیر دولتی موسـسـات ددی ډول لاسـوهنو د څیړلو په اړوند ګوښـمن دی.

**د بـندیزونـو ګـواښ**
د ۲۰۰۵ کال د غیر دولتی موسساتو د قانون پر بنسټ، غیر دولتی موسسات په خپلو فعالیتونو د مالیاتو د ورکړی څخه معافیت لری اما دولت ته باید هغه مالیات ټول او وسپاری کوم چی د کارمندانو د معاش او یا هم د قراردادیانو پرعایداتو لګول شوی دی. ملی غیر دولتی موسساتو څرګنده کړه چې دوی باید هغه مالیات چی د کارمندانو د معاش او یا هم د قراردادیانو پرعایداتو راټول کړی د طالبانو حکومت ته وسپاری. دوی ویره لری که دا کار ونه کړی نو د طالبانو حکومت له خوا به جلب شی او تو پوښتنو ګرویګنو لاندی به ونیول شی. ملی غیر دولتی موسسات په دې اړه د بسپنه ورکوُنکو (ډونرانو) او د ملګرو ملتونو د ادارو څخه د یو روښانه لارښود غوښتونکی دی او اندیښنه لری چی د دی مسله په باب باید د غیر دولتی موسساتو له خوا په انفرادی ډول تصمیم و نه نیول شی.

په همدی ډول، غیر دولتی موسساتو اندیښنه څرګنده کړه چی دوی د هغه بندیزونو په رابطه چی په ۱۹۹۹ کال کی د ملګرو ملتونو له لوری او په ۲۰۰۱ کال کی د امریکا د متحده ایالاتو له لوری پر طالبانو لګیدلی پوره وضاحت نه لری. دا په داسی حال کی ده چی میلی غیر دولتی موسسات ددی بندیزونو په اړوند لازمو قانونی مشورو ته لاسرسی نه لری او ددی لامله دوی په یو ګواښمن حالت کی دی.

## وړاندیزونه او سـپارښـتنی

**د ښځو او ښـځینه کارکوونکو د فعالیتونو په اړه د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) له خوا لا زیاته بودیجه**
د نویو چارواکو سره په مدنی ټولنو کې د ښځو د رول او د هغوی د تعلیم او کار په رابطه خبرې اترې باید دوام وکړی، او دا خـبرې اترې باید د افغان ښـځو او نارینه وو لخوا رهبری شی. په بشـری مرسـتو کې باید د روغـتیا، زده کـړی، او کارموندنی په برخه کې د ښـځو د پروګـرامونو د پراخـتیا لپاره بودیجـه برابره شـی تر څو ډاډ ترلاسـه شـی چې د تیرو ۲۰ کلونو ځینې لاس ته راوړنی ضایع نه شی، دا کار د ملی غیر دولتی موسـسـاتو، ځوانانو او د ښـځو د ټولـنو د پیاوړتیا له لاری کولای شی چی ښه سرته ورسی. په بشـردوسـتانه مرسـتو کی د جـنسـیت کاری ډله (Gender in Humanitarian Action Working Group) باید په ښاری او کلیوالی سیمو کې د ښځو د همکاری، روانی او ټولنیزې مشورې، کارموندنی، لاسی صنایعو، او د څارویو د روزلو په برخه کې ښـکاره سپارښـتنې وکړی. تر ټولو مهم باید غیر دولتی موسـسـاتو ته اضافی بودیـجه ورکړل شی تر څو خپلو ښـځینه کارکوونکو ته د استخدام او کارکولو ډاډمن شرایـط برابر کړی.

**د د بندیزونو او مالیي د ورکړې په اړه د بسپنه ورکوونـکو (ډونرانو) موقف**
د دې مقاله د موندنو پر بنسـټ، بسـپنه ورکوونکی (ډونران) باید د طالبانو حکومت ته د غیر دولتی موسـسـاتو لخوا د مالیي د ورکړې په اړه د یو ګـډ دریځ په اړه موافقه ته ورسـیږی. تر اوسه پورې د بسـپنه ورکوونکو(ډونرانو) له خوا د بندیزونو په اړوند ورکړل شوی لارښـونی روښـانه نه دی او یا هم متناقصی دی. له دی امله دا سپارښتنه کیږی چې د رضاکاره بنسـټونو نړیواله شورا (ICVA) غیردولتی موسساتو ته اړینی حقوقی مشورې په دی اړه ورکړی، په ځانګړې توګه ملی غیردولتی موسساتو ته چی دا کار به د هغوی سره د خپلو راتلونکی فعالیتونو په پلان کولو کې مرسته وکړی.

**د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) بسپنه او د غیردولتي موسساتو سره ګډ کار**

بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) ته پکار ده چې په داسې لارو چارو غور وکړي چې د هغه د لارې بسپنه ورکوونکي (ډونران) ملي او سیمه ییزو غیردولتي موسساتو ته اوږد مهاله (څوکلنه) بودیجه ځانګړې کړي، ترڅو د سیمه ایزه موسساتو پر مټ د بشري مرستو رسولو (Localisation) په برخه کې په خپلو نړیوالو ژمنو عمل وکړي. په همدې ډول د ملګرو ملتونو اداري او نړیوال غیردولتي موسسات باید د ملي غیردولتي موسساتو سره د ګډ کار (Partnership) پراختیا ته دوام ورکړي. د ملګرو ملتونو د ادارو او نړیوالو غیردولتي موسساتو ته پکار ده چې د ملي موسساتو د څېړنې (Due-Diligence) د پاره په یو معیاري پروسه (چه د ټولو د پاره د منلو وړ وي) توافق وکړي تر څو پدې اړه شته بیروکراسي کمه او شفافیت ډېر شي. د رضاکاره بنسټونو نړیواله شورا (ICVA) کولای شي په جینیوا (Geneva) کې د ملګرو ملتونو د ادارو سره په دې اړه مرسته وکړي تر څو د ملي موسساتو د څېړنې (Due-Diligence) یو معیاري تګلاره برابر کړي. په بشري پروګرامونو کې د ګډ کار (Partnership) له لارې د ملي غیردولتي موسساتو د چمتو کولو یوه ښه بېلګه د اکبر (ACBAR) د موسسه Twinning پروګرام دی چې د هغه د لارې ملي غیردولتي موسسات د OCHA ګډې بودیجه ته (OCHA Pool-Funding) د لاسرسي د پاره چمتو کېږي.

سربیره پر دې، د افغانستان د بشري مرستو صندوق (Afghanistan Humanitarian Fund) باید خپله د څېړنې پروسې (Due-Diligence) ته بیا کتنه وکړي تر څو ملي غیردولتي موسسات وکولای شي چې د څېړنې (Due-Diligence) په دې پروسه کامیاب شي او هم وکولای شي چې د اړتیا وړ معیارونه په سم ډول تطبیق کړي. ملي غیردولتي موسساتو اندیښنه څرګنده کړه چې اوس مهال د څېړنې پروسه (Due-Diligence) خورا تخنیکي او ورو ده او هم په افغانستان کې له اوسني شرایطو سره سمون نه لري.

**د بشري مرستو د اصولو په اړه پوهاوی او د غیردولتي موسسو په اړه انځور**

د طالبانو ډېری حکومتي چارواکي د غیردولتي موسساتو د کار په اړه شکمن دي. دې امر ته په پام کې نیولو سره، طالبانو ته د بسپنه ورکولو د پروسې، د بشري مرستو د پروژو د ډولونو، د بشري مرستوڅخه د ګټه اخیستونکو د پیژندنې د بهیر، د غیردولتي موسساتو د بشري منابعو د پالیسیو، د بشري مرستو د نظارت او ارزیابۍ د پروسه، او د نورو ورته پالیسیو په اړه د پوهاوي د ورکړې ضرورت شته. اکبر (ACBAR) او نور هغه موسسات چې د غیردولتي موسساتو د همغږۍ چارې په غاړه لري باید د طالبانو د چارواکو سره د خبرو اترو پر مهال د ټولو غیردولتي موسساتو څخه په ګډه او ډله یز ډول استازیتوب وکړي او هم دا چې د بشري مرستو اصول د طالبانو سره په خپلو غونډو کې بیان کړي. که چیرې هره غیردولتي موسسه په انفرادي توګه د اوسنیو چارواکو سره د خپلو اړوند مسایلو په رابطه جداګانه خبرې اترې وکړي، ددې ویره پیدا کېږي چه هغه غیردولتي موسسات چې د طالبانو سره د خبرو اترو (مفاهمه) په ښه موقف کې نه دي د ستونزو سره مخ شي. په دې ډول د اکبر (ACBAR) موسسه ددې کار د سرته رسولو لپاره به د لا زیاتو کارکونکو ګمارلو ته اړتیا ولري، په ځانګړې توګه د ولایتونو په کچه. په دې اړوند ښه مثال د ولسوالیو او ولایتي چارواکو لپاره د بشري مرستو د ګډ عملیاتي اصولو(Joint Operating Principles) په اړه د پوهاوي ورکول دي، تد څو په راتلونکې کې به د بشري مرستو په اړه د سوء تفاهم د منځ ته راتګ څخه مخنیوی وګړي.

**د غیردولتي موسسو همغږۍ**

اکبر (ACBAR) باید خپلو هغه غونډو ته چې د طالبانو د ولایتي چارواکو او غیردولتي موسساتو تو منځ دایروي دوام ورکړي ترڅو د غیردولتي موسساتو د عملیاتي ستونزو په اړه هراړخیزې خبرې وشي. په دې مقاله کې د ګډونوالو ملي غیردولتي موسساتو په اند د داسې غونډو دایرول په هر ولایت کې د طالبانو د دریځ د پوهیدو په اړه خورا اړین دي، په ځانګړې توګه د غیردولتي موسساتو د ښځینه کارکوونکو د کاري شرایطو په اړوند د طالبانو د دریځ پوهیدل.

همدارنګه، ډیرو هغه موس‌س‌اتو چه د غیردولتی موسساتو د همغږۍ چاری یی په مخ بولی خپل فعالیتونه بند او یا هم کم کړی دی، چی دی امر د اکبـر (ACBAR) د غیردولتی موسساتو او مدنی ټولنو د همغږۍ دنده لا هم زیاته کړی چی د دی کار د سرته رسولو لپاره اکبـر (ACBAR) باید خپل اوسنی ظرفیت پراخ کړی.

**د مدنـی ټولنـو څخه ملاتړ**

د افغانستان مدنی ټولنی (چې د عدلیی په وزارت کې د ټولنو په توګه ثبت شوی وی) د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې تر ۱۵مې پورې خورا فعاله وی. سره ددی چی مدنی ټولنی د بشری مرستو د رسولو د پاره مناسب جوړښتونو نه دی، مګر دوی کولای شی چی د ټولنی په مشرۍ کوچنی پروژی په ښه توګه تطـبیق کړی. له دې وړاندې ګڼ شمېر مدنی ټولنی او وړې غیر دولتی موس‌س‌ې په کابل کی د بهرنیو ملکونو د س‌فارتونو له لوری تمویل کیدلی، په ځانګړې توګه هغو چې د ښځو د حقونو په برخه کې په کارکولو بوختی وی. اوس مهال مدنی ټولنی په اغیزمنه توګه د روان بشری بحران په ځوابولو کی دخیلی نه دی او د بودیجې نشتون له امله د ۵۰ – ۶۰ س‌لنه مدنی ټولنی تړل شوی دی. نړیوال غیر دولتی موس‌س‌ات چې اوس مهال په افغانستان کې شتون لری کولی شی د بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) څخه د مدنی ټولنو لپاره بسپنه تر لاسه کړی او هغوی ته یی ورسوی. دا ډول بسپنې به ځوانانو او ښځو ته د بشری مرس‌تو د رس‌ولو لپاره یو ښ‌ه لنډ مهاله حل وی، په ځانګړې توګه په ښاری ټولنو کی د ساتنې (Protection) د مرستو په وړاندې کولو کې. د دې تر څنګه، د ملګرو ملتونو سازمانونه او نړیوالې غیر دولتی موس‌س‌ات د خپلو نړیوالو مسوولیتونو له مخی باید د مدنی ټولنو او د هغوی د کار څخه لازم ملاتړ وکړی.